# دعاشوقانو د ورځې لمانځل

ليکوال: محمد صالح المنجد

ژباړن: احسان ربي آنفال

۱۳۹۴هـ. ش.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عاشوقانو د ورځې لمانځل

**(Celebrating Valentin's Day)**

لیکوال: محمد صالح المنجد

ژباړن: احسان ربي اَنفال

۱۳۹۴ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

۱. د عاشوقانو/ ولنټاين د ورځي لمانځل ........................................................ ۱

۲. دميني جشن يا دعاشقانو ورځ (Festival of Love / Valentine's Day) ...... ۳

۳. د سَينټ ولنټاين او د دې جشن تر منځ اړيکي ................................................ ٤

۴. ددې ورځي اړوند مهمي کړني ................................................................ ۸

۵. د دوی خپلي څېړني او احصائيې لاندي واقعيتونه په لاس راکوي................ ۲۲

٦. دعاشقانو د ورځي په وړاندي د مسلمانانو کړنلاره........................................ ۲٤

۷. د عاشقانو د ورځي اړوند د مسلمانو علماؤ فتوی ........................................ ۳۳

۸. په اخيره کي درنو ورونو ته وړانديزونه .................................................. ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عاشقانو د ورځي لمانځل

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على محمد و آله و اصحابه اجمعين.

الله(ج) اسلام زموږ له پاره ددين په توګه غوره کړی دئ او له اسلام څخه پرته الله(ج) ته بل دين د قبول وړ نه دئ. لکه څنګه چي الله(ج) فرمايي:

**"وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآَخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ"** [۱]

ژباړه: او هر څوک چي پرته له اسلام څخه بل دين ولټوي، نو له ده څخه به هيڅکله ونه منل سي. او هغه به په اخرت کښي له تاوانيانو څخه وي.

او حضرت محمد(ص) فرمايي، چي د امت ځيني ډلي به ئې دالله(ج) ددښمنانو پيروي کوي او ځيني ديني مراسم او عنعنات به ئې لمانځي لکه څنګه چي د ابو سعيدالخدري(رض) په دې روايت سوي حديث کي راغلي دي:

**عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ عَنِ النَّبِىِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا شِبْرًا وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ» . قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى قَالَ «فَمَنْ»** [۲]

۱- سورة آل عمران(۸۵ - آيت)

۲- "بخاري باب القول نبي (ص) او مسلم باب الاتباع اليهود والنصارا"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: بې شکه چې تاسي به دهغو کسانو چې ستاسي تر مخه راغلي دي لوېشت په لوېشت او گز په گز پیروي وکړئ، تر داسي اندازې که هغوی د سمسارې وغار ته داخل سول، تاسي به هم ورپسې یاست. موږ وویل: یا د الله رسوله(ص) (مطلب دي) یهود او نصارا دي؟ هغه(ص) وفرمایل:"بل نو څوک؟"

پېغمبر(ص) چي څه ویلي وه هغه اوس په مسلمانو هېوادو کي پېښ او دخپرېدو په حال کي دي. ډېر مسلمانان دالله(ج) ددښمنانو پیروي کوي، د هغو دودونه عملي کوي، د هغو کړني سرته رسوي او حتی د هغو د ځینو دیني مراسمو تقلید کوي او د رخصتۍ ورځي ئې لمانځي. دخلکو ترمنځ دغه گډ حالت او د مسلمانانو وهېوادو ته چي د کفارو دودونه په کومه په زړه پوري ډغیزه او انځوریزه طریقه د سټلایټ، ټلوېزیون او انټرنیټ له لاري رانوزي، خبره نوره هم خرابه کړې ده. ډېر مسلمانان ئې په ظاهري ښکلا او ځلا خطاوتلي دي.

په اوسنیو څو کلونو کي یوه نوې پېښه چي تر مخه په مسلمانو ځوانانو کي نه لیدل کېده تر سترگو کېږي، چي هغه د مسیحیانو تقلید (**د عاشقانو د ورځي لمانځل**) دي. علماء او داعیان دې ته مجبوره سوي دي چي په شریعت کي ددې ورځي اړوند احکام بیان کړي، تر څو مسلمانان ئې په اړه څرگند مفاهیم تر لاسه کړي او په دې کرغېړن عمل چي عقیدې ته ئې ضرر رسوي، اخته نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ددې ورځي د اصليت، مقصد او پيل په اړه بحث او ددې ورځي په اړه د مسلمانانو کړنلاره وړاندي کوو:

**د ميني جشن يا د عاشقانو ورځ (Festival of Love / Valentine's Day):**

اوولس پيړۍ تر مخه چي کله په روم کي شرک خپور وو، په هغه وخت کي د نورو جشنو پرځنگ د روميانو يو بل جشن (فيستيوال) هم وو، چي "دميني جشن" ئې بلئ. د روميانو د مشرکي عقيدې له مخي دا د "روحاني ميني" يوه اصطلاح وه. د روم د مشرکينو په دې جشن (فيستيوال) پوري ځيني اسطورې هم تړلي وې. يوه له هغو څخه ئې د روميانو دا عقيده وه، چي د روم جوړونکي "روملوس" په دغه ورځ د شرموښي شيدې ورودلې، چي ددغه شيدو په رودلو سره دی قوي او د پوهي خاوند سو. روميانو به دغه ورځ هر کال د فبروري د مياشتي په نيمايي کي د يو لوی جشن په توگه لمانځل. په دغه جشن کي ددوی دغه ديني دود وو، چي سپی او بزه به ئې قرباني کول، بيا به دوو(۲) قوي پهلوانانو ددغه قرباني سوي سپي او بزې په وينه خپل بدنونه لړل، او وروسته به په شيدو لمبېدل، تر څو دغه وينه ئې له بدنه پاکه سي. وروسته به يو لوی رسمي گذشت جوړ سو، چي دغه دوه ځوانان به ئې په سر کي ول، او په کوڅو کي به تېرېدل. له دغه دوو ځوانانو سره به څرمني وې، چي کله به ئې په لاره کي څوک مخ ته راغلل په هغه څرمنه به ئې وهل. رومي ښځو به ددغه رسم گذشت ښه راغلاست وايه، ځکه دوی په دې عقيده وې چي دغه کسان د شنډتوب مخنيوی او علاج کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سَینټ ولنټاین[۱] او د دې جشن تر منځ اړیکې:

سَینټ ولنټاین دهغه کس نوم دئ، چې ځان ئې د عیسایي کلیسا له پاره قرباني کړ. داسې ویل کېږي، چې دغه کس په (296م) کال کې د یو ګوتیک قومندان له خوا دعذاب ورکولو په پایله کې مړ سو. په (۳۵۰م) کال کې پر هغه ځای یوه کلیسا جوړه سوه او دده یادګار ئې راتازه او دایمي کړ. کله چې په روم کې عیسایت خپور سو، دوی د میني په نوم د یوې مذهبي مېلې لمانځل شروع کړل. د شِرکي عقیدې د"روحاني میني" ښه په بله ښه واوښته چې "دمیني شهیدان" ورته وویل سول. دا د سینټ ولنټاین په یاد لمانځل کېږي، چې ددوی په ادعا دمیني له پاره ئې کار کاوه او له کبله ئې قرباني سو. دا د مینانو مېله هم بلل کېده او سینټ ولنټاین دمینانو سپېڅلی راهب او حامي بلل کېدئ.

په دې جشن پوري اړوند ددوی یوه کړنه دا وه، چې د هغو انجونو نومونه چې د واده عمر ته به رسېدلي وې پر یوه ټوټه کاغذ لیکل او کټ به ئې د مېز پر سر په یوه لوښي کې کښېښول. بیا به یو داسې ځوان چې غوښتل به ئې واده وکړي راوغوښتل سو او د کاغذ له ټوټو څخه به ئې یوه راپورته کړه. دا ځوان به د هغې انجلۍ په خدمت کې حاضر سو، چې په کاغذ کې به ئې نوم لیکلی

۱- Saint دپیر او بزرګ په معنا دئ، دا چې د عیسایانو په اند ولنټاین پر عیسایت پاته سواو له دین څخه وانه وښت، نو ځکه ده ته سینټ ولنټاین (Saint Valentin) وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. یو کال به ئې له یو بل سره تېر کړ او بیا به ئې واده سره وکړ. که به سره خوښ نه سول، په راتلونکي کال کي به ئې بیا پر همدې ترتیب داغه کار کاوه.

عیسایي روحانیونو ددې دود پر ضد غبرګون وښاوه. دوی داسي ګڼل چي دا د ځوانو هلکانو او انجونو پر اخلاقو بده اغېزه لري او په ایټالیا کي ئې (چي دغه دود ډېر په کښي عام سوی وو) له منځه یووړئ. دغه دود وروسته بیا په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کي راژوندی سو. په ځینو غربي هېوادو کي دوکانونه راووتل چي کوچني کتابونه ئې خرڅول او دا کتابونه ئې "دولنټاین کتابونه" (Valentin's Books) بلل. په دې کتابو کي به د میني شعرونه او د میني دلیک لیکلو طریقه او لارښووني لیکل سوي وې، چي بیا به هغه چا چي خپلي معشوقې ته به ئې لیک لېږئ، ددې کتاب څخه شعرونه انتخابول.

ددې ورځي د اصلیت په اړه داسي هم ویل کېده، چي کله رومیانو عیسایت قبول کړ، نو په روم کي عیسایت ډېر عام او خپور سو. د روم امپراتور دوهم کلاډیوس په درېیمه میلادي پېړۍ کي دا حکم صادر کړ، چي فوځیان به واده نه کوي. ځکه د واده له کبله له جنګ څخه راګرځي. سینټ ولنټاین له دې حکم څخه سرغړونه وکړه او په پټه به ئې د فوځیانو ودونه ورکول. کله چي امپراتور په خبر سو، دی (ولنټاین) ئې په بند کي واچاوه او د اعدام په سزا ئې محکوم کړ. په بند کي د بندیوان پر لور مین سو، خو دغه مینتوب هم پټ پاته وو، ځکه چي د عیسایي قانون له مخي کشیش او راهب له میني او واده کولو څخه منع ول، خو بیا هم تر اوسه پوري عیسایان پر عیسایت باندي دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ولنټاين) د ټينګ پاته کېدو په خاطر دده ډېر احترام کوي. کله چې امپراتور ده ته په دې شرط د بخښني وړانديز وکړ، چې عيسايت پرېږدي او د رومي خدايانو عبادت وکړي، دی به امپراتور ته تر ټولو نزدې کس وي او خپل زوم به ئې کړي، مګر ولنټاين دا وړانديز ردکړ او پر عيسايت پاته سو. نو له دې اسيته ئې د (۲۷۰ز) کال د فبروري د مياشتي پر (۱۴) نېټه اعدام کړ. د فبروري د (۱۵) نېټې په ماښام د لوپرکالس جشن (Festival of Lupercalis) ونيول سو او دغه ورځ ددې راهب (ولنټاين) په نامه ونومول سوه.

په "د تمدن کيسه" نومي کتاب کي ليکل سوي دي، چې کليسا يوه داسي جنتري جوړه کړه، چې هره ورځ ئې د يوه راهب له پاره خاصه کړې وه. په لندن کي د ژمي اخيره وه چې دغه ورځ راورسېده. کله چې دا ورځ راغله، ددوی په اند په دغه ورځ په ځنګله کي مرغان يو له بل سره يو ځای سول. او په دغه ورځ به ځوانانو د هغو انجونو د کورو پر کړکيو ګلان ايښوول، چې دوی به مينه ورسره درلوده.[۱]

پاپ[۲] د سينټ ولنټاين ورځ د (۲۷۰م) کال د فبروري د مياشتي (۱۴) نېټه د ميني جشن ته ځانګړې کړه. داچې ددې جشن په اړه پاپ ددوی مذهبي لارښووني کوي، موږ ته د الله(ج) دا آيت را يادوي:

1- The Story of Civilization by Will Durant, 15/23.

۲- پاپ لوی پادري يا د نړۍ والي کليسا لوی اسقف ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ"**(۱)

ژباړه: دوی خپل عالمان او روحانيون له الله څخه ماسوا معبودان ونيولي او همدارنګه مسيح د مريم زوی هم، او حال دا چي دوی ته حکم نه دی سوی پرته له دې څخه چي د يوازني الله عبادت وکړي (هغه ذات چي) له هغه څخه پرته بل معبود نسته. الله له هغه څه څخه چي دوی ئې ورسره شريکوي سپېڅلی دئ.

**عدي بن حاتم**(رض) **وايي: "أتيت النبي صلى الله عليه و سلم وفي عنقي صليب من ذهب فقال يا عدي اطرح عنك هذا الوثن وسمعته يقرأ في سورة براءة {اتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله} قال أما إنهم لم يكونوا يعبدونهم ولكنهم كانوا إذا أحلوا لهم شيئا استحلوه وإذا حرموا عليهم شيئا حرموه"**(۲)

ژباړه: زه ونبي(ص) ته راغلم او صليب مي په غاړه وو، پېغمبر(ص) راته وويل اې عدي دغه بت وغورځوه او ما دا هم څني واورېدل چي د سورة براءة دغه آيت ئې تلاوت کاوه "**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ**" بيا ئې وويل: دوی ددغه احبارو او راهبانو عبادت نه کاوه، بلکي کله چي به هغو کوم

۱- سورة التوبه(۳۱ - آيت)

۲- سنن الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی ورته حلال کړ، دوی به حلال ګڼئ او که به هغو ورته حرام کړ، دوی به حرام ګڼئ.

## ددې ورځې اړوند ځینې کړنې:

1. دوی د نورو لویو فیستیوالونو او جشنونو په څېر په دې ورځ جشن نیسي او خوشالي کوي.

2. یوبل ته د ګلاب سره ګلونه ورکوي، چې د مشرکینو د "روحاني مینې" او د عیسایانو د مینې سمبول دئ.

3. یو بل ته کاټونه لېږي، چې پر دې کاټو د "کوپید" عکسونه هم وي، چې یو کوچنی هلک دئ، دوه وزرونه لري، غشی او لینده ورسره وي. چې دا د رومي مشرکینو د مینې خدای وو. الله(ج) دې موږ له شرک څخه وساتي.

4. په دغه کاټو کې چې دوی ئې یو او بل ته لېږي، په لنډو جملو، بیتو او نثري ټوټو سره یو او بل ته د مینې څرګندونه کوي. پر دغو کاټو باندې ځینې ټوکیز او خندونکې عکسونه او الفاظ هم وي. او ډېر کله (Be my Valentine)[1] جمله هم پر لیکل سوې وي. دا وروسته له هغه چې د مشرکینو له عقېدې څخه واخیستل سوه، ددغه جشن عیسایي عقیده څرګندوي.

5. په دغه ورځ په ډېرو غربي هېوادو کې د ورځې له خوا مېلمستیاوې نیول کېږي او ماښام چې نارینه او ښځې ټول سره ګډ او یو ځای وي نڅا

١- یعنې "زما ولنټاین سه"، چې دا خبره و سینټ ولنټاین ته منسوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. ډېر کسان خپلو مېرمنو، ملګرو او هغه چاته چې دوی ورسره مينه لري، د ګلاب ګلونه او چاکلېټ په تحفه کې ورکوي.

د مشرکينو د جشن اړوند پورته ذکر سوو نقطو ته چې ګورو، لاندې نتيجې ته رسېږو.

1. ددې جشن رينبه د روم د مشرکينو وعقيدې ته رسېږي، چې د هغو بتانو د روحاني ميني اصطلاح وه، چې دوی به د الله(ج) پر ځای د هغو عبادت کاوه. ځوک چې دا ورځ لمانځي، داسې ده لکه د شرک يو عمل چې سرته رسوي. الله(ج) فرمايي:

**"لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ"**[١]

ژباړه: هغه کسان په يقيني توګه کافران سول چې هغوی ويل همدا مسيح د مريم زوی، الله دئ. حال داچې عيسی وويل: اې بني اسرائيلو (يوازې) د هغه الله عبادت وکړئ، چې زما او ستاسې رب دئ. حقيقت دا دئ چې که چا له الله سره شريک ونيوی نو بې شکه چې الله پر هغه باندې جنت حرام کړی دئ او د هغه ځای دوږخ دئ او د ظالمانو مرستندوی نسته.

---

١- سورة المائده (72 - آيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. په رومیانو کې دا جشن په وهمي کیسو (اسطورو) او افسانو پورې تړلی وو، چې هیڅ سالم عقل ئې نه سي منلای. د مسلمان عقل خو پرېږده، چې پر یوه الله(ج) او پیغمبرانو(علیهم السلام) ایمان لري. آیا د غیر مسلمان روغ او سالم عقل دا منلای سي چې د روم د ښار یو جوړونکي (مؤسس) دي د شرموښې شیدې رودلي وي او بیا دي ده په هغه سره پیاوړتیا او هوښتیا تر لاسه کړې وي؟! پر دې سربېره دا اوهام دمسلمان له عقیدې سره په ټکر کي دي، ځکه څوک چې پوهه او پیاوړتیا بخښي هغه الله(ج) دئ، نه د شرمښې شیدې! دا کټ مټ له هم هغه کیسو څخه ده چې ویل به ئې: د دوی بتان دوی له شر او رمې ئې له شرمښانو څخه ساتي.

3. د رومیانو د کرغېړنو مذهبي دودونو څخه یو دود دا وو، چې په دغه ورځ به ئې یو سپی او یوه بوزه قرباني کول، بیا به دوو ځوانانو په دغه وینه خپل بدنونه لړل او بیرته به په شیدو لمبېدل. دا هغه څه دي چې د هر انسان په سالم فطرت کي تغیر راولي او روغ عقل ته د منلو وړ نه دي.

4. ددې جشن او د ولنټاین تر منځ د اړیکو په هکله د ډېرو منابعو له خوا پوښتنې راولاړې سوي دي، او دا ئې له واقعیت څخه لیرې ګڼلې ده. د عیسایانو له پاره به هم دا ښه وي چې د مشرکینو له دې جشن څخه لاس واخلي، چې دوی ئې تقلید کوي. نو موږ مسلمانان خو بیا بیخي باید ځان ځیني راټول کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. په ایټالیا کي عیسایي روحانیونو دا جشن له منځه یووړی، ځکه چي بد اخلاقي ئې خپرول او د ځوانو هلکانو او انجونو پر فکرنو ئې خراب تاثیر کاوه. نو مسلمانانو ته خو بېخي لازمه ده، چي هم خپله ددې ورځخه وکړي او هم نور ورځخه راوګرځوي، تر څو د امربالمعروف او نهي عن المنکر مسؤلیت ئې تر یو حده سرته رسولی وي.

کېدای سي یو څوک دا پوښتنه وکړي، چي ددې جشن د لمانځلو د رد له پاره څه دلیل سته؟ او یا ددې لمانځل زموږ و عقیدې ته څه زیان رسوي؟

ددې سوال له پاره کېدای سي څو جوابه ولرو:

1. په اسلام کي جشن او ورځي ئې ښکاره او عامي دي، چي هیڅ لړوالی او ډېروالی نه مني. د هغو ورځو لمانځل زموږ د عباداتو مهمي برخي دي، چي په اړه ئې هیڅ اجتهاد او شخصي نظر ته اړتیا نسته. دا ټول الله(ج) او پېغمبر(ص) موږ ته بیان کړي دي. شیخ الاسلام علامه ابن تیمیه(رح) وایي: جشنونه، ددیني مراسمواو قوانینو برخه ده، چي الله(ج) ئې په اړه فرمایي:

**"وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فِي مَا آَتَاكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ"**(۱)

ژباړه: او تاته مو کتاب په حقه نازل کړی دئ دا کتاب د (هر) هغه کتاب تصدیق کوونکی دئ، چي له دې څخه مخکښي وو او د هغه ساتونکی دئ. نو د دوی تر منځ په هغه څه چي الله نازل کړي دي، حکم وکړه او د هغه رښتینو حکمونو په بدل کښي چي تاته راغلي دي د دوی د (نفساني) غوښتنو پیروي مه کوه. ستاسي د هري ډلي له پاره مو یو شریعت او یوه روښانه لار وټاکله. که الله اراده کړې وای، نو هرو مرو به ئې تاسي یو امت ګرځولي وای. خو (الله غواړي) چي تاسي په هغه شي کښي چي تاسي ته ئې درکړی دئ وازمویي. نو ښېګڼو ته په بېړه وردرومئ. ستاسي د ټولو ورتګ د الله په لور دئ. بیا به تاسي په هغه څه کي چي اختلاف مو پرې کاوه خبر کړي.

**په قرآن کریم کي راځي:**

**لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ"**(۲)

ژباړه: موږ د هر امت له پاره د عبادت یوه کړنلاره ټاکلې ده چي هغوی ئې پیروي کوي.

۱- سورة المائده(۴۸ - آیت)

۲- سورة الحج (٦٧ - آیت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له هم هغه اصولو څخه دي لکه د لمانځه په وخت کي مخ پر قبله درېدل، لمونځ او روژه. د کفارو په جشنو کي د برخي اخيستلو او په نورو مذهبي مراسمو کي ئې د ګډون کولو هيڅ فرق نسته. ددوی د ټولو جشنو سره موافقه داسي ده لکه د کفر سره موافقه. د کفارو له ځينو کوچنيو موضوعاتو سره موافقه داسي ده لکه د کفر د ځينو برخو سره موافقه. جشنونه د هغو مشخصو شيانو څخه شمېرل کېږي، چي يو دين په پېژندل کېږي. نو څوک چي ددوی جشنونه لمانځي داسي ده لکه دکفر د يو مشخص ديني دود سره چي موافقه ښيي. په دې کي شک نسته چي ددوی سره په جشنو کي برخه اخيستل څوک وکفر ته رهنمايي کوي. په دې مراسمو کي ډېره لږ برخه هم يوه ګناه ده. پېغمبر(ص) ودې حقيقت ته چي هر ملت خپل جشنونه لري اشاره کړې ده لکه څنګه چي فرمايي: **"إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا ، وَهَذا عِيدُنَا"** (البخاري و المسلم)[1]

ژباړه: بې شکه چي هر قوم لره اختر دئ او زموږ اختر دغه دئ.

دا چي د ولنټاين ورځ (د عاشقانو ورځ) روميانو ته ورګرځي، نه ومسلمانانو ته، نو ددې مطلب دادئ چي دا خاص په عيسايانو پوري اړه لري، نه په اسلام پوري؛ نه مسلمانان په دې شريک دي او نه برخه په کښې لري. که هر ملت خپل اختر لري لکه څنګه چي پېغمبر(ص) فرمايلي دي: " **إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا ...**"(بخاري او مسلم)، نو بيا ددې معنا داسوه چي هر ملت بايد ځان په خپلو جشنو له نورو څخه جلا کړي. که عيسايان ځان ته اختر لري او يهود ځانته،

۱- الاقتداء،( ۴۷۱/۱-۴۲۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي خاص په دوی پوري اړه لري، نو بيا هيڅ مسلمان لکه څنګه چي ددوی په دين او عباداتو کي برخه نه اخلي، داغسي بايد ددوی سره په دغه ورځو کي برخه وا نه خلي.

2. د عاشقانو ورځ (د ولنټاين ورځ) لمانځل د رومي مشرکينو تقليد او مشابهت دئ، تر هغه وروسته د عيسايانو سره ورته والی دئ، چي اهل کتاب دي، که څه هم دا ورځ ددوی د دين برخه نه ده، خو په لمانځلو کي ئې د روميانو تقليد کوي. دا چي موږ ته دا نه ده روا چي د عيسايانو ددين ځيني مراسم ولمانځو چي اهل کتاب دي، نو د هغه لمانځل به څنګه راته روا وي چي دوی د مشرکينو څخه اخيستي دي. د کفارو تقليد په عمومي توګه که مشرک دئ او که اهل کتاب حرام دئ. هغه که د دوی مذهبي او ديني مراسم دي او که دوديز او عنعنوي. ددې حراموالی په قرآن، سنت او اجماع سره ثابت دئ.

**په قران کريم کي:** الله(ج) فرمايي:

**"وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ"**[١]

ژباړه: او د هغو کسانو په څېر مه کېږئ، چي وروسته تر دې چي ښکاره نښانې ورته راغلې، سره خواره سول او شخړي ئې وکړې او د هم دوی له پاره لوی عذاب دئ.

١- سورة آل عمران(105 - آيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په احاديثوکي:** پيغمبر(ص) فرمايي: څوک چي د کوم قوم مشابهت کوي له هغو څخه دئ. **"مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ"**[1]

شيخ الاسلام ابن تيميه(رح) وايي: "دغه حديث موږ ته دا راښيي، چي ددوی سره مشابهت حرام دئ. په داسي حال کي چي د حديث ښکاره معنا داسي ده چي څوک ددوی مشابهت کوي، هغه کافردئ.[2] لکه څنګه چي الله(ج) فرمايي:

**"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ"**[3]

ژباړه: اې مؤمنانو، يهودان او نصرانيان دوستان مه نيسئ. ددوی ځيني د ځينو نورو دوستان دي او هغه څوک له تاسي څخه چي (په دوستۍ سره) دوی ته مخ را واړوي، نو په رښتيا چي هغه د دوی څخه دئ. بې شکه چي الله ظالمانو لره لارښوونه نه کوي.

**اجماع:** علامه ابن تيميه(رح) وايي چي پر دې باندي د ټول امت اتفاق دئ، چي د ثبات په وخت کي د کفارو په جشنو کي له هغوی سره ګډون او تقليد حرام دئ. ابن قيم(رح) وايي چي پر دې باندي د ټولو علماؤ اتفاق دئ.[4]

١- احمد او سنن ابو داود.

٢- الاقتداء،( ٧٢٢/٢-٧٢٥).

٣-سورة المائده (51 - آيت)

٤- الاقتداء،( ٤٥٤/١.احکام اهل الذمة، ٧٢٢/٢-٧٢٥ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله(ج) له کفارو سره مشابهت حرام کړئ دئ، دکرکي وړ ئي بللی دئ او دهغه دپايلو له خطر څخه ئې په وار-وار، په مختلفو طريقو او ډېرو آيتونو کي خبر کړي يو. کله-کله ئې د کفارو دپيروي کولو او نه کولو څخه خبر کړي يو، کله ئې له هغوی او د هغوی له تؤطيو څخه بېرولي يو، تر څو د نظر او کړنو تر تأثر لاندي ئې رانه سو. کله-کله ئې د هغوی کړني او اخلاق راته بيان کړي دي، تر څومؤمنان ددوی له کړنو او ددوی له مشابهت څخه ليري و اوسي. په قرآن کريم کي تر ټولو ډېر د يهودو او منافقينو او وروسته بيا په ټوليزه توگه د اهل کتابو او مشرکينو د خطر په اړه خبر سوي يو. الله(ج) موږ ته په قرآن کريم کي فرمايي، چي د کفارو اطاعت او مشابهت ارتداد رامنځ ته کوي او همدارنگه ئې د هغو له اطاعت، پيروی، د هغو د فکر، غوښتنو او کرغېړنو اعمالو له تقليد څخه منع کړي يو.

دکفارو له مشابهت څخه مخ گرځول او منع د شريعت له اصولو څخه ده. الله(ج) خپل پيغمبر(ص) له لارښوونو او يوه ښتيني دين سره رالېږلی دئ، تر څو دا دين پر ټولو اديانو غالب سي او دا دين ئې د بشريت له پاره بشپړ کړی دئ.

**"الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا"**[۱]

۱- سورة المائده (۳ - آيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: نن ورځ ما ستاسي له پاره ستاسي دين پوره کړ او پر تاسي مي خپل نعمت پوره کړ او اسلام مي ستاسي له پاره دين غوره کړ.

الله(ج) اسلام د جامع، همېشني او عالمي دين په توګه رالېږلی دئ، چي د ټولو انسانانو غوښتني رانغاړي. نو بناءً دې ته اړتيا نسته چي د کفارو تقليد او مشابهت وکړو.

له دوی سره مشابهت د مسلمان شخصيت جرح کوي، چي د ټيټوالي، پَستوالي، کموالي، ضعف او ماتي احساس ورکوي، چي په پايله کي انسان دالله(ج) له مستقيمي لاري او قوانينو څخه ليري او منحرف کېږي. تجربو ثابته کړې ده، چي د کفارو توصف او له هغو سره مشابهت د انسان په زړه کي د کفارو مينه دېروي، پر هغو ئې باور دېروي، هغوی په دوستانو او مرستندويانو نيسي او بالآخره ئې دې ته اماده کوي چي پر اسلام، مسلمانانو، دهغو پر اتلانو، او اسلامي ارزښتونو رد وکړي او له دې ټولو څخه بې پروا سي.

3. په اوس وخت کي د عاشقانو د ورځي (د ولنټاين دورځي) هدف دا دئ چي د ټولو خلکو ترمنځ مينه خپره سي. هغه که کافر وي او که مسلمان فرق نه کوي. او له کفارو سره مينه بې شکه چي حرامه ده. الله(ج) فرمايي:

**"لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ"**(١)

ژباړه: هيڅکله به دا و نه مومې، کوم خلک چي پر الله او آخرت ايمان لرونکي دي چي هغوی له هغو خلکو سره مينه کونکي اوسي چي د الله او د هغه د رسول مخالفت ئې کړی دئ. که څه هم د هغوی پلرونه وي يا ئې زامن او يا ئې وروڼه او يا ئې ټبر او کورنۍ وي. دا هغه کسان دي چي الله د دوی په زوړونو کي ايمان خوندي کړی دئ او له خپل لوري د يو روح په ورکولو سره ئې دوی پياوړي کړي دي، هغه به دوی داسي باغونو ته ننباسي چي تر ونو لاندي به ئې ويالې بهيږي، په هغو کي به دوی د تل له پاره اوسيږي، الله له دوی څخه خوښ دئ او دوی له الله څخه خوښ دي. دوی د الله د گوند خلک دي، خبر اوسئ چي همدا د الله گوند د بريا موندونکی دئ.

شيخ الاسلام ابن تيميه(رح) فرمايي: هيڅ داسي مؤمن نسته چي هغه دي کافر په دوستۍ ونيسي. هر څوک چي کافر په دوستۍ نيسي، هغه مؤمن نه دئ. په عام ډول د يو چا مشابهت له هغو سره د ميني نخښه ده او له کفارو سره مينه حرامه ده.(٢)

دغه مينه چي نسبت ئې د عاشقانو ورځې ته کيږي، د هغه عيسايي خيالي ميني دود راژوندی او قوي کوي، چي له نکاح څخه بهر ده او پايله ئې د زنا

---

١- المجادله(٢٢ - آيت)

٢- الاقتداء،( ١/٤٩٠).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بداخلاقۍ خپرول دي. نو ځکه ئې عيسايي روحانيونو هم يو وخت مخالفت وکړ او دا دود ئې له منځه يووړئ، خو له بده مرغه چي بيا بيرته رامنځ ته سو.

ډېر ځوانان دغه ورځ ځکه لمانځي چي هغو ته ددوی د خواهشاتو د پوره کولو زمينه برابروي، خو د کفارو سره د مشابهت او د هغوی د تقليد مسئله ئې په فکر کي نه وي نيولې. خپله دې ناورين ته وګورئ، چي دوی د کبيره ګناه (زنا) ارتکاب کوي او له بلې خوا د عيسايانو تقليد دئ، چي د هغوی د عبادت يوه برخه ده، چي حتی کېدای سي کفر وي.

کېدای سي ځيني خلک ووايي چي ته موږ له ميني څخه محروموې. په دغه ورځ چي موږ خپل احساسات ښرګندوو، په دې کي څه ستونزه ده؟

ددوی له پاره وايو:

لومړی- دا يوه لويه او ناوړه غلطي ده چي دوی دا ورځ د هغه مقاصدو سره-سره په دې نامه يادوي چي ددې ورځي تر شاپټ دي. ودې ورځي ته چي د ميني کوم نسبت کېږي هغه يوه خيالي او افسانوي مينه ده، چي دبايفرينډ (Boy friend) او ګرلفرينډ (Girl friend) سره تړاو لري. دا ددوی د جنسي خواهشاتو او اختلاط ورځ ده، چي د هيڅ شي ممانعت او مخنيوی په کښي نسته. دوی پر هغه سپېڅلې او پاکه مينه خبره نه کوي، چي د خاوند او مېرمني ترمنځ ده. دوی د هغه مينې چي د غيري مشروع عاشق او معشوق ترمنځ ده او هغه مينه چي د خاوند او مېرمني ترمنځ اړيکي ټينګوي توپير نه کوي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جشن ددوی له پاره په دې معنا دئ، چي هر څوک کولای سي خپله مینه څرګنده کړي.

دوهم- دمسلمانانو له پاره د احساساتو څرګندول د حق په معنا نه دي، چي ددې د لمانځني له پاره چي ددوی پر نظریاتو او مفکورو بناوي ورځ خاصه کړي او د جشن په نامه ئې ونوموي او یا جشن او اختر ورځخه جوړ کړي. ښه، نو په دې اړه څه وایاست چي دا د کفر له جشنونو څخه دئ؟!

په اسلام کي خاوند له خپلي مېرمني سره ټول کال مینه لري او له هغې سره خپله مینه په تحفو ورکولو،شعرو، نثري ویناوو، لیکنو او نورو طریقو سره څرګندوي یوازي یوه ورځ ئې نه ده ورته ټاکلې، بلکي ټول کال ورسره مینه لري.

درېیم- هیڅ دین خپل پیروان دونه میني ته نه هڅوي لکه اسلام او نه ئې تر اسلام زیات د یوه وبل د خیال ساتلو ته هڅولي دي. دا په هر وخت او هر حالت کي د تطبیق وړ خبره ده، یواز ي یوې ورځي ته نه ده خاص سوې. په حقیقت کي اسلام موږ دې ته هڅوي چي ټول عمر خپل احساسات څرګند او یو له بل سره مینه وښیو. لکه څنګه چي پېغمبر(ص) فرمایلي دي: **"عن النبي صلى الله عليه و سلم قال "إذا أحب الرجل أخاه فليخبره أنه يحبه"** [1] (قال الشيخ الألباني:صحيح)

---

١- سنن أبي داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له نبي(ص) څخه روايت دئ، چي ويل ئې: څوک چي له خپل ورور سره مينه لري، نو خبر دي ئې کړي، چي زه مينه درسره لرم.

هم دارنګه ئې فرمايلي دي:

**"قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَىْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ"**[١]

ژباړه: نبي(ص) فرمايي: تر هغو به جنت ته داخل نه سئ، ترڅو چي ايمان رانه وړئ او تر هغو به ايمان رانه وړئ، تر څو چي يو له بل سره مينه ونه کړئ او ايا داسي شی در و نه ښيم چي په کولو سره ئې ستاسي تر منځ مينه زياته سي؟ سلام په خپل منځ کي اچوئ.

څلرم- په اسلام کي مينه ډېره عامه او هر اړخيزه ده، دا يوازي په يو ډول ميني پوري چي د سړي او ښځي تر منځ ده، نه ده محدوده. د ميني ډېر قسمونه دي. لکه له الله(ج) سره مينه، له رسول(ص) سره مينه، د رسول(ص) له اصحابو سره مينه، له نيکو او صالحو خلکو سره مينه، له دين سره مينه او نصرت ئې، له في سبيل الله شهادت سره مينه، او داسي ډېر نور.... دا يوه ډېره لويه غلطي ده چي د ميني دونه پراخه معنا و يو قسم ميني ته رامحدوده سي.

پنځم- دا فکر غلط دئ چي خلک وايي مينه له واده څخه تر مخه ښه کار دئ او دا د واقعي او ريښتيني ژوند تجربو او څېړنو ثابته کړې ده. د

١- صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاهرې د پوهنتون له خوا څخه په ترسره سوې څېړنه کي چي د "دوديز ودونه او د ميني ودونه" تر نامه لاندي ترسره سوي ده لاندي حقايق را سربېره كوي:

هغه ودونه چي د ميني له مخي ترسره سوي دي ۸۸٪ سلنه يېښبي ئې په ناكامۍ پاى ته رسېدلي دي. يعني د بريا اندازه ئې تر ۱۲٪ سلني ډېره نه ده. مگر هغه ودونه چي عنعنوي او دوديز[۱] ئې بولي ۷۰٪ سلنه ئې بريالي سوي دي. يا په بله وينا د دوديزو ودونو د بريا اندازه دميني تر ودونو شپږ(٦) واره زياته ده.[۲]

راسئ اوس د غربي ټولنو حالت ته چي د عاشقانو ورځ په كښبي لمانځل كېږي يوه كتنه وكړو او ددې پوښتنه وكړو، چي په هغه ټولنو كي د ودونو حالت څه ډول دئ. آيا دا ډول لمانځني د خاوند او مېرمني تر منځ پر متقابل محبت مثبته اغېزه لري او كه نه؟

## د دوی خپلي څېړني او احصائيې لاندي واقعيتونه په لاس راكوي:

۱- دامريكا په يوه څېړنه كي چي په (۱۴۰۷س./۱۹۸۷ز. كال) كي ترسره سوې ده، ښيي چي ۷۹٪ سلنه خلک خپلي ښځي وهي په خاصه توگه هغه چي ودونه ئې ورسره كړي وي![۳]

۱- يعني هغه ودونه چي د كورنۍ په خوښه او مصلحت سرته رسېږي.

2- Risaalah mu'minah, p.255
3- Al-Qabas newspaper, 15/2/1988.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- یوه څېړنه چي د امریکا د عصبي روغتیا ملي دفتر[1] له خوا تر سره سوې ده، ښیي چي:

- هغه ښځینه ناروغان چي بېړنیو اطاقو ته ځي ۱۷٪ سلنه ئې د خپلو خاوندانو او یا نارینه ملګرو (boyfriends) له خوا وهل سوي دي.
- هغه ناروغان چي تر مخه لږ تر لږه یوار د تداوي په موخه روغتون ته تللي دي، ۸۳٪ سلنه ئې د وهلو له سببه دي. څېړنه ورپسي زیاتوي چي ډېري داسي ښځي هم سته چي روغتون ته د علاج له پاره نه ځي، بلکي په خپله په کور کي تداوي کوي.

۳- دمعایناتو له پاره د مرکزي امریکا نمائندګي[2] یو راپور ښیي چي د امریکا په یو ځای نه یوځای کي په هرو اتلسو(۱۸) ثانیو کي یوه مېرمن د خپل خاوند له خوا وهل کېږي.

۴- په امریکایي ټایم (Time) مجله کي راځي چي په شپږ میلیونه هغه ښځو کي چي وهل کېږي، تقریباً څلور زره (۴۰۰۰) ئې مري.

۵- د جرمني په یوه څېړنه کي ښوول کېږي، چي له کاله یو لک (۱۰۰،۰۰۰) ښځي د خپلو خاوندانو او هغه سړیو له خوا د روحي او فزیکي جبر سره مخ کېږي، چي دوی ورسره ژوند کوي. اصلي شمېره ئې کېدای سي یو میلیون ته ورسېږي.

1- National American Office for Mental Health
2- Central American Agency for Examination [FPT].

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- په فرانسه کي تقریباً دوه میلیونه ښځي له وهلو سره مخ کیږي.

٧- دبرطانيې په یوه نظرپوښتنه[1] کي چي اووه زره (٧٠٠٠) ښځو برخه پکښي اخیستې وه، ٢٨٪ سلنو ئې ویل چي د خپلو خاوندانو او نارینه ملگرو(boyfriends) له خوا تر حملې لاندي راغلي دي.

نو دې ته په کتو سره ځنگه باورکولای سو، چي د عاشقانو ورځ د واده کولو له پاره گټوره ده؟ اصلاً حقیقت دادئ چي دا ازادۍ او فساد ته یوه بلنه او د ناروا اړیکو یوه بڼه ده.

هغه خاوند چي په ریښتیا له خپلي مېرمني سره مینه لري، ودې ورځي ته هیڅ اړتیا نه لري، چي د ده مینه ورپه یاد کړي. دی له خپلي مېرمني سره همېشه او هر وخت مینه کوي.

## دعاشقانو د ورځي په وړاندي د مسلمانانو کړنلاره:

له پورته بحث څخه د عاشقانو د ورځي په وړاندي د مسلمانانو کړنلاره باید واضح وي.

١- د پورته ښوول سوو ثبوتونو له مخي چي د کفارو د جشنونو لمانځل حرام دي، مسلمانان باید نه دا ورځ خپله ولمانځي، نه له نورو سره په دې مراسمو کي گډون وکړي او نه باید ورته حاضر سي.

1- Opinion poll

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحافظ الذهبي(رح) وايي: که عيسايان ځان ته جشن ولري او يهودان ځان ته چي يوازي په دوی پوري اړه لري، نو مسلمانان بايد ددوی په مذهبي لارښوونو او عباداتو کي برخه وانه خلي.[1]

ځکه د سلفو صالحينو يو اصل د الولاء والبراء وو، دا پر هر هغه چا چي د لااله الاالله محمد رسول الله کلمه وايي، واجب ده چي ددې اصل پيروي وکړي. نو دی بايد له مؤمنانو سره مينه او له کفارو څخه کرکه وکړي، مخالفت ورسره وکړي او له هغو څخه جلا سي. دی بايد په دې پوه سي چي دا به دده له پاره د بې شمېره ګټو سبب وګرځي او فقط ساده مشابهت هم دده له پاره د يو لوی خطر سبب ګرځي. پر دې سربېره کله چي يو مسلمان د کفارو تقليد کوي دا تقليد او مشابهت کفار خوشاله کوي او زړونه ئې له خوښيو ور ډکوي او دا د مسلمانانو په زړونو کي له کفارو سره مينه او محبت ډېروي. که يوه مسلمانه انجلۍ دا ورځ په دې خاطر لمانځي، چي مارګريت، هيلري او يا بل خوک ئې تجليلوي، بې شکه چي دا کړنه له دې حقيقته پرده پورته کوي، چي دا انجلۍ ددوی پيروي او ددوی کړني تائيدوي. په داسي حال کي چي الله(ج) ئې په اړه فرمايي:

**"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ"**[2]

---

١- تشبه الخسيس بأهل الخميس، ملجلة الحكمه، ١٩٣/۴

٢- سورة المائيده (٥١ - آيت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای مؤمنانو، یهودان او نصرانیان دوستان مه نیسئ ددوی ځیني دځینو نورو دوستان دي او هغه څوک له تاسي څخه چي (په دوستۍ سره) دوی ته مخ راواړوي، نو په رښتیا چي هغه ددوی څخه دئ. بې شکه چي الله ظالمانو لره لارښوونه نه کوي.

ددوی د تقلید او مشابهت یو ناوړه تأثر دا دئ چي ددوی دپېرښت، حمایت او ددوی پیروي ښیي. نو دا به د یو داسي مسلمان له پاره څنګه مناسبه وي، چي په هر رکعت کي دا وايي چي: "**اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ** (٥) **صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ**(6) **غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ**"[١] ژباړه: موږ ته نېغه لار وښیه (٥) د هغه کسانو لاره چي تا پېرزوینه پر کړې ده (٦) نه (دهغو لار) چي قهر پر سوی او نه (د هغو) چي لار ورکي دي.

احصائیې دا ښیي چي په عامه توګه د عاشقانو ورځ یوازي او یوازي د کریس میس (Christmas) ملاتړ کوي. نو دا ښکاره خبره ده چي د میني جشن د نصرانیانو له جشنونو څخه دئ او یوازي او یوازي د کریس میس (Christmas) ملاتړ ښیي، چي د عیسی مسیح(ع) د پیدایښت د ورځي لمانځنه ده. نو دا د مسلمانانو له پاره روا نه ده چي د دغي نېټې په لمانځنه کي برخه ورسره واخلي، روا ځکه نه ده چي موږ پر دې امر سوي یو چي له کفارو سره د هغوی په دین، دود او نورو رسومو کي چي په ځانګړې توګه په دوی پوري اړه لري برخه وانه خلو؛ چي دا په قرآن، سنتو او اجماع سره ثابته ده:

---

١- سورة الفاتحه (٥- ٦-٧ آیتونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- دکفارو په لمانځغونډو کې باید ګډون ونه سي، ځکه دا د کفر له عنعناتو څخه دي، نو له دوی سره مرسته او ددوی د کړنو تائید له دوی سره د کفر په ښکاره کولو او خپرولو کې د تائید په معنا دئ. اسلام خپلو پیروانو ته ددې اجازه نه ورکوي چې کفر تائیدکړي او یا له نورو سره د کفر په خپرولو کې مرسته وکړي. شیخ الاسلام ابن تیمیه(رح) وایي: د مسلمانانو له پاره له کفارو سره په ځانګړو لمانځغونډو کې ګډون او له دوی سره مشابهت ناروا دئ. هغه که په خوراک، لباس، حمام، اورلګوني او ورځني ژوند کې وي او که په عبادت کې، توپیر نه لري. لنډه داچې، پر مسلمانانو لازمه ده چې نه یوازې باید په دغه ورځ ددوی رسومات تر سره نه کړي، بلکې دا ورځ باید د یوې عادي ورځې په توګه وګڼي.[۱]

۳- مسلمان نه یوازې دا چې باید له نورو مسلمانانو سره ددې ورځې په لمانځلو کې مرسته ونه کړي، بلکې هغه باید ور څخه را وګرځوي. ځکه د مسلمانانو له پاره د کفارو د جشن ورځې لمانځل یو کرغېړن او ناوړه عمل دئ، چې باید مخالفت ورسره وسي. شیخ الاسلام ابن تیمیه(رح) وایي: لکه څنګه چې موږ باید دا ورځ ونه لمانځو همداسې باید نور مسلمانان هم ددې ورځو له لمانځلو څخه راوګرځوو.[۲]

۱- مجموعة الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیه ۳۲۹/۲۵.

۲- الاقتداء،( ۵۱۹/۲-۵۲۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابن تیمیه(رح) د وینا پر اساس مسلمانو تجارانو ته د عاشقانو د ورځې د تحفو، ددې ورځې له پاره د ځانګړو کالیو، د سرو ګلونو او هر هغه شي چې ددې ورځې اړوند وي، کار و بار نه دئ روا. همدارنګه دا هم نه ده روا چې ددې ورځې اړوند تحفه څوک ومني، ځکه ددې په منلو سره دا ددې ورځې د تائیدولو ښکارندويي کوي.

یو داعي ویل، چې موږ په یو مسلمان ملک کې د ګلانو و یو دوکان ته ولاړو، دا چې دا دوکان ددې ورځې له پاره خونه ترتیب سوی وو، موږ ګوته په غاښ ورته پاته سوو. دوکان ته دننوتو ځای ټول په سره غالۍ فرش وو، اعلانات ئې ټول په سره رنګ او ټول دوکان ئې په سره رنګ ښایسته کړی وو. موږ د دوکان له یوه کارکوونکي څخه پوښتنه وکړه، چې د دوکان له پاره ئې ددې ورځې په خاطر ولې دونه خواري کړې ده. دوکاندار په جواب کې راته وویل چې دا ئې د خلکو د ډېرو غوښتنو په خاطر داسې ترتیب کړی دئ، چې اماده ګي ئې له ډېره وخته راهیسې شروع سوې وه. بیا داعي وویل دا چې زه نوی مسلمان سوی وم او عیسایت مې پرې ایښئ وو، په دې ډېر حیران سوم. (دا چې دا داعي له مسلمانېدو څخه ترمخه په دې پوهېدئ، نو څنګه به څوک ووایي چې دا د مسلمانانو کار دئ نه د عیسایانو؟!) نور ډېر دوکانونه هم وه، چې د ګلاب په سرو ګلونو ښکلي سوي ول او په ډېره لوړه بیه به ئې خرڅول.

یوه ښځینه داعي ښځینه زده کوونکو ته چې د درس په سالون کې سره راټولي سوي وې ورغله. دغه ښځینه داعي ددې په لیدو بې زړه او وبېرېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له هري زده کوونکي سره به په سره رنگ يوشی خامخا موجود وو. له يوې سره به د گلاب سور گل وو، د بلي زده کوونکي به پوړنی سور وو، له بلي سره سور دسمال وو، دبلي به بسته سره وه او حتی جرابي ئې هم سرې وې.

د داسي مسلمانو انجونو له پاره افسوس دئ!! چي په داسي ورځو ددوی په منځ کي داسي کړني هم سرته رسيږي لکه:

الف- د ښځينه زده کوونکو له خوا د خپلو ملگرو پر راسته لاس پټۍ تړل.

ب- ددې ورځو په مناسبت سور رنگه لباسونه (کالي، بوټونه، د ورېښتانو کيتکان او نور...) اغوستل. دا خو دونه ډېر سوي دي، چي تېر کال موږ يوې ټولگۍ ته ولاړو هلته ټولو زده کوونکو سور رنگه لباسونه اغوستي ول، سړی به داسي فکر کوئ چي دا ددوی رسمي لباس دئ.

ج- سور رنگه بوغياني چي د "I love you"[(۱)] الفاظ ورباندي ليکلي وي او اکثره وخت ئې د درسي ورځي په اخير کي داسي ځای ته راوړي چي د استادانو له سترگو ئې نيهام وي.

د – نومونه او زوړونه او يا د نوم لومړي توري ئې پر لاسو کنبلي وي.

هـ- په دې ورځ د گلاب سره گلونه پاشل.

د فيبروري پر ۱۴ يوه ډله انجوني خپلي ټولگۍ ته په داسي حال کي ننوتلې، چي د ټولو د لباس يوه برخه نه يوه برخه په سره رنگ وه او سور ميک آپ (Make up) ئې ورسره کړی وو، او پر مخونو ئې زړه ته ورته ستيکران

---

۱- يعني زه مينه درسره لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منښلولي وه. يو بل ته ئې د سره رنګ ډالۍ ورکولې او په خورا ولولو سره ئې يو وبل ښکلولې، يا په بله وينا دوی د ولنټاين ورځ (دعاشوقانو ورځ) لمانځل.
دا پېښې دمسلمانې نړۍ په پوهنتونو کې رامنځ ته کېږي، په داسې حال کې چې دا هم اسلامي پوهنتونونه دي.

په لېسو کې ددې په ليدو دسړي سد کار پرېښوئ، چې زيات شمېر انجونو د اعلی کيفيت سره ګلان راوړي ول، سنګار او غوړ والي ئې په سره رنګ وه او يو بل ته ئې تحفې ورکولې او ددې ورځې د لمانځلو په مناسبت ئې په خورا جوش او خروښ سره روغبړ کاوه.

په موسوعة العربية[۱] کې راځي چې د عاشقانو د ورځې له پاره خاص دودونه سته، لکه پر کاټونو د ميني اشعار چاپول او بيا دوستانو او هغه کسانو ته ورکول، چې دمينې ادعا ئې کوي. ځنې کسان پر دغه کاټو ټوکيز عکسونه رسموي او پر دغه کاټو تر ټولو عام د "Be My Valentine" الفاظ ليکلي وي. په دې ورځو کې اکثره وخت مېلمستياوې جوړوي او دخپل ډَول نڅاوې کوي. حتی اروپايان تر اوسه پورې دا ورځې لمانځي. په برطانيه کې دګلانو پلورنه دوه ويشت (۲۲) ميليونه پاونډه ته رسېدلې ده، په دې ورځ خورا ډېر چاکلېټ ضايع کېږي او کمپنيانې په خپلو ويب پاڼو کې ددې ځايو اعلانونه ورکوي.

1 - The Arabic Encyclopedia

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عاشوقانو ورځ يو شمېر عربي هېوادو ته هم رسېدلې ده او حتی د اسلام مرکز (دعربو جزيره) هم نه ده ورڅخه خلاصه. ددې ورځې لمانځنه وهغو ټولنو ته هم رسېدلې چې موږ ئې هيڅ فکر نه کوئ، چې دا لېونتوب به هلته هم خپور سوی وي. په رياض کي د سرو ګلابو بيه په خورا لېونتوب سره لوړيږي، تر داسي اندازې پوري چې ديوه ګلاب بيه شپږدېرش (۳٦) رياله (۱۰ ډالره) ده، په داسي حال کي چې له دې ورځې څخه تر مخه ئې بيه پنځه رياله وي. ددې ورځې له پاره دکانداران دخپلو دوکانونو په ښايسته کولو کي سيالي سره کوي او همدارنګه په کورو کي هم خلک دخپلو کورونو پر کړکيو د ګلاب سره ګلونه ځړوي.

په ځينو خليجي هېوادو کي دوکانونه، مغازې او هوټلونه د عاشوقانو د ورځې لمانځلو ته خاص ترتيبات نيسي. اکثره مغازې او تجارتي مرکزونه په سور رنګه توکو پوښل سوي وي. د خليج تر ټولو ښه هوټل له بوغيانو او ناوکيانو څخه ډک وو. د ميني د جشن او د مشرکانو د خيالي کيسو د دودونو په مناسبت ئې رستورانټ د "کوپيد" په ډراماتيکو توکو وَډَلی وو. کوپيد په رومي افسانوي کيسو کي د ميني خدای ګڼل کېږي، چې تقريباً بربنډ او په لاس کي ئې غشی او لينده وي. د هوټل کارکوونکو په دې پسي کتل چې د حاضرو خلکو له منځه ښاغلی ولنټاين او مېرمن ولنټاين انتخاب کړي!!

کم بيه رستورانټونه هم دا ورځ په خپل ډول او طريقه سره لمانځي. ځيني ئې د خپلو معمولي لوښو پر ځای له زړه ته ورته لوښو څخه کار اخلي، سرميزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې له سره رنګه کتان څخه جوړې کړې وي، او پر هر مېز ئې د نارينه وو له پاره د ګلاب يو سور ګل ايښی وي، ترڅو خپلې معشوقې ته ئې ورکړي.

په دغه وروستي واري د عاشوقانو د ورځې لپونتوب په کويټ کې د يوه ډالۍ خرڅوونکي له خوا پيل سو.[1] نوموړي دوکاندار ژوندۍ فرانسوۍ سوۍ ګاني راوړي وې چې ډېري کوچنۍ دي او سرې سترګې لري. دغو سوۍګانو ته ئې کوچنۍ نيکټايانې ورتړلې او په کوچنيو صندقچو کې ئې اچولې وې، چې د ډالۍ په ډول ورکول کېدې.

موږ بايد له دې ټولو شيانو سره مخالفت وکړو او ددې مسؤليت زموږ د ټولو دئ.

۴ – موږ بايد د عاشوقانو د ورځې مبارکي چاته ورنه کړو، ځکه چې دا نه د مسلمانانو اختر دئ او نه ئې کومه سپېڅلې ورځ ده. که کوم مسلمان ته ددې ورځې مبارکي ورکړل سي، بايد جواب ئې ورنه کړي. ابن قيم(رح) وايي: کفارو ته د منسوبو ورځو مبارکي د مسلمانانو له پاره په اجماع سره حرامه ده. په داسې ورځو کې چې ددوی جشنونه، مېلمستياوې، او نور وي هغوی ته مبارکي ويل او له پاره ئې د هغه ورځې نېکمرغي غوښتل که څه هم څوک وايي چې دا له کفر څخه خالي ده، بياهم حرامه ده. دا داسې ده لکه يو چاته چې صليب ته د سجدې کولو مبارکي ورکوي. ددې ورځو مبارکي د الله(ج) په نزد د شرابو تر مبارکۍ، زنا او قتل ډېره بدتره ده. ډېر هغه کسان چې په زړه

۱- دغه ليکنه په ۱/۱/۲۰۰۵ نېټه خپره سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ئې و دين ته احترام نه وي دا ډول کړنې تر سره کوي، په داسې حال کې چې د خپلو کړنو په زيان نه پوهېږي. څوک چې و چاته د ګناه، بدعت او کفر مبارکي وايي، په لوی لاس ځان د الله(ج) د قهر او غضب مستحق ګرځوي.[۱]

موږ بايد هغه مسلمانانو ته چې د کفارو له خوا خطاوتلې دي ددې ورځې اصليت او د کفارو نور جشنونه ورته واضح کړو او دا ور وښيو چې مسلمانان بايد خپل ځانونه د خپل دين په ذريعه رابېل کړي او خپله عقيده له ټولو مضرو شيانو څخه خوندي وساتي. دا بايد مسلمان امت ته وښوول سي چې څه خير او څه شر دئ، تر څو له شره ځان وساتي او خير خپل کړي.

## د عاشقانو د ورځې اړوند د مسلمانو علماؤ فتوی:

### د شيخ محمد بن صالح العثيمين فتوی:

**پوښتنه:** په دا وروستيو کې د عاشوقانو د ورځې لمانځل خورا ډېر سوي دي، په ځانګړې توګه په ښځينه زده کوونکو کې. دا عيسايي رخصتي ده، چې په دغه ورځ ټول سور رنګه لباسونه اغوندي، سور رنګه بوټونه په پښو کوي او يو وبل ته د سره رنګ ګلونه ډالۍ کوي.... هيله لرو چې ددې ورځې د لمانځنې اړوند ځيني احکام راسره شريک کړئ. او په دې اړه مو مسلمانانو ته څه مشوره ده؟ حفظک الله.

---

۱- أحكام أهل الذمة، ۴۴۱/۱-۴۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب:** د عاشوقانو د ورځي لمانځل له څو جهتونو څخه ناروا دي:

۱- دا یو بدعت دئ، چي په شریعت کي هیڅ اساس نه لري.

۲- د خلکو زړونه او فکرونه په عبث شیانو اخته کوي، چي د دیني لارښوونو خلاف عمل دئ، (الله(ج) دي هدایت ورته وکړي). نو په دغه ورځ هره هغه کړنه چي ودې ورځي ته ئې نسبت کېږي روا نه ده. هغه که په خوړو کي وي، که په چنباک، لباس، ډالۍ ورکولو او نورو کي وي. مسلمان باید په خپل دین وویاړي، دونه کمزوری باید نه سي چي د هر چا په چغو او نارو پسې ځي. الله(ج) دي موږ ټول مسلمانان له ټولو ښکاره او پټو فتنو څخه وساتي او الله(ج) دي قوت راکړي. الله(ج) تر ټولو پوه دئ.

**د عاشوقانو د ورځي اړوند د شیخ عبدالله بن عبدالرحمن بن جبرین فتوی:**

**پوښتنه:** دا د میني جشن یا د ولنټاین ورځ (د عاشوقانو ورځ) په هلکانو او انجونو کي ډېره عامه سوې ده. "ولنټاین" د یوه عیسایي راهب نوم دئ، چي عیسایان ئې خورا ډېر احترام لري، او دغه ورځ هر کال د فبروري پر څورلسمه (۱۴) لمانځي، چي یو وبل ته ډالۍ او د ګلاب سره ګلونه ورکوي او سره لباسونه اغوندي. ددې ورځي او په دې ورځ یو بل ته د ډالۍ ورکولو احکام څه دي؟ الله(ج) دي په نېکۍ سره اجرونه درکړي.

**جواب:** اول خو دداډول جشنو لمانځل ځکه روا نه دي، چي بدعت دئ او په شریعت کي هیڅ بنیاد نه لري. او بل د حضرت عایشي(رض) په روایت سوي حدیث کي راځي چي رسول(ص) فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**"عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- "مَنْ أَحْدَثَ فِى أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ"**[۱]

ژباړه: د عائشې(رض) څخه روایت دئ، چې پیغمبر(ص) وفرمایل چا چې زموږ په دین کې دداسې شی خبر ورکړ، چې هغه زموږ په دین کې نسته، نو هغه رد دئ.

دوهم، دا د کفارو سره د هغوی په جشن لمانځلو، سپېڅلو ورځو او د هغوی په دیني رسمو کې مشابهت او تقلید دئ. په حدیث شریف کې راځي: **"مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ"**

ژباړه: څوک چې د کوم قوم مشابهت کوي، له هغو څخه دئ.

درېیم، ټولي هغه کړني چې ددې ورځو له سببه رامنځته کېږي، لکه ددې ورځې مېلمستیاوي، عبث او بې ځایه لوبې، غزلې ویل، سروز، بې حیایي، سپین سترګي، بې ستري، بداخلاقي او خپل سریتوب، د نارینه وو او ښځو اخطلاط (ګډون)، د نامحرمه په وړاندې د ښځو څرګندېدل او نور ټول حرام کارونه دي، چې انسان د بداخلاقۍ پر لور رهنمایي کوي. نو دا باید دساتېري له پاره بهانه نه کړو او نه ددې ادعا وکړو، چې له خپل ټاکلې حد څخه تېرې نه کوو، او نه دا ددې له پاره مناسبه ده. له چا سره چې د ځان پروا وي هغه باید له دې ګناوو او ټولو هغه اسبابو څخه چې ودې کړنو ته ئې راکاږي ځان وژغوري.

۱- سنن أبى داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناءً ددې ډاليو او ګلونو خرڅول هم روا نه دي. که چيري يو څوک په دې پوه سي چي رانيونکی دغه ورځ لمانځي او يا دغه توکي دې ورځي ته د احترام په خاطر د تحفې په توګه يو چاته ورکوي، خرڅونکی ئې ځان بايد په ګناه ور سره شريک نه کړي. والله اعلم.

**د اللجنة الدائمة ټولني فتوی:**

ددې ورځي په اړه د اللجنة الدائمة ټولني څخه هم پوښتنه وسوه چي: ځيني خلک د عيسوي کال د فبروري د مياشتي څورلسمه (۱۴) نېټه دميني د ورځي (دعاشوقانو دورځي) په توګه لمانځي، چي په دغه ورځ يو بل ته ډالۍ او سره ګلونه ورکوي، سره لباسونه اغوندي او يو بل ته ددې ورځي په مناسبت مبارکي وايي. ځيني بيکرۍ والا داسي خوراکي شيان جوړوي چي سور رنګ لري او پر هغه باندي ئې زړونه نقش کړي وي او ددې ورځي اړوند د اماده کړو شيانو اعلانونه ورکوي. په دې اړه ستاسي فکر څه دئ؟

**د اللجنة الدائمة ټولني جواب:**

دمسلمانانو له پاره دغه او دغه ته ورته لمانځغونډي لمانځل حرام دي. هغه که په خوراک، چښاک، رانيولو، خرڅولو، جوړولو، سمولو او برابرولو، اعلاناتو کي وي، او که په بله هره طريقه وي. ځکه ټول هغه څه چي له نورو سره په ګناه کي مرسته کوي، هغه د الله(ج) او رسول(ص) نافرماني او په وړاندي ئې تېری دئ. لکه څنګه چي الله(ج) فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**"وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ"**[۱]

ژباړه: او په نېکۍ او تقوی کښي (يو له بل سره) مرسته وکړئ او په گناه او ظلم کښي مرسته مه کوئ او له الله څخه وبېربېږئ. بې شکه چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

نو مسلمانان بايد په قرآن او سنتو منگولي ټينگي کړي او خپل ټول کارونه ئې په رڼا کي تر سره کړي. په خاصه توگه د فتنو او فساد په وخت کي. ډېر احتياط بايد وسي چي د هغو کسانو په فتنه کي ونه لوېږي چي بې لاري سوي او د الله(ج) غضب پر سوی دئ او نه د هغو کسانو په فتنه اخته سي چي نه الله(ج) ته هيله لري او نه اسلام ته احترام. مسلمانان بايد له الله(ج) څخه پنا وغواړي او په ټينگه ئې د هدايت غوښتنه وکړي. له الله(ج) څخه ماسوا نه هدايت د چا په لاس دئ او نه پر حقه لار د ټينگ پاته کېدو توان. يوازي الله(ج) قوي او قادر ذات دئ.[۲]

## په اخيره کي درنو ورونو ته لاندي وړانديزونه لرو:

۱- بايد له خپلو مسجد امامانو څخه غوښتنه وکړو، چي خلکو ته ددې ورځي په اړه بيان وکړي او له زيانونو څخه ئې خبر کړي. ددې ورځي اړوند

۱- سورة المائده (۲-آيت)

۲- اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات باید له خپلو مسجد امامانو سره شریک کړو او دا ورځ ور وښیو. او د اللجنة الدائمة ټولني دفتوی یوه کاپي او د شیخ محمد العثیمین فتوی ورکړو. کوښښ باید وکړو چي د خپلو امامانو سره ددې ورځي اړوند خبره شریکه کړو. خامخا به ددې موضوع په لوستونکو کي مسجد امامان وي، نو ددې په لوستلو ئې دا پر ذمه پاتېږي چي باید خلګو ته ئې ورسوي.

۲- هر استاد باید خپل زده کوونکي ددې ورځي له اصلیته خبر او له تاوانونو څخه ئې وبېروي، که نه د الله(ج) په وړاندي به سبا دوی مسؤل وي. استادان باید ددې وضاحت وکړي، چي د داسي ورځو لمانځل په اتفاق سره حرام دي. له دې څخه چي څونه ژر خلک خبرېږي هغونه ئې ګټه ډېره ده.

۳- مسؤله کسان باید هغه دوکانونه په ښه او بند کړي، چي ددې ورځي په مناسبت ډالۍ او تحفې خرڅوي او یا ئې په ګلونو پوښي.

۴- هر کس باید د خپلي کورنۍ ټول غړي په دې خبر کړي. د چا ورونه او خوندي چي په ښوونځیو کي دي باید په دې موضوع ئې خبر او وبېروي، ځکه ډېرخلک ددې ورځي په اړه معلومات نه لري او نه ئې په حقیقت پوهېږي.

الله(ج) دي ټول مسلمانان له هر ډول شر او فتنو څخه هغه که ئې له خپلو ځانو څخه دي او که ئې د دښمنانو دسیسې او توطئې دي وساتي. بې شکه چي الله(ج) ښه اورېدونکی او دعا قبلوونکی دئ.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و آله و اصحابه اجمعین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Celebrating Valentin's Day

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**